# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| اجتماعی | Social |
|---|---|



انجنیر سلطانجان کلیوال / تورنتو / کانادا.

۰۵ نومبر ۲۰۱۵

# خورشـــــید عـطایی د مینی شـاعره
# د رڼـا مـلـغـلـره




د ځلوېښتو کلونو نه په زیاته موده کی خوشید عطایی شاعری وکړه او د وطن په دواړو ژبو پښــتو او دري باندی یی شعرونه و لیکل، مقالی او کیسي یی ولیکلی، او هغه پور یی یه ښه توګه آدا کړ چی وطن او وطنوالو ور په غاړه مړی ؤ.

د خورشید شعرونه د هغی د ژوندانه په اوږدو کی، د هغی ستره شتمنی او نه یواځی د افغان ولس لویه اړتیا وه ، بلکی د انسانی نړی او بشری ټولنی د تکمیل په لاره کی هغه سترګام دی چی د دی ټولنی د نیم نه د زیات وجود حالت او احساسات پکی څرګند شویدی. خورشید د همدی شعری شتمنی په مټ خپل ټول ګټور ژوند په استغنا او چاته د تمی دلاس غزولو نه پرته او په هسکه غاړه تیر کړ.

خورشید د خپلو ګلالیواولادونو د پاره هم موروه ، هم پلارؤ ، هم ښوونکی وه او هم روزونکی او پالوکی وه. هغه د خپلی ذاتی طبعی له مخی یوه بی کبره ، مهربانه ، مینه ناکه زړه سواندي ،آرامه او د پاک زړه خاونده وه . هغی د نفرت او کرکی نه کرکه لروده ، هفی د هر ډول تعصب او تنګ نظری نه نفرت کاوه ، هغی د هرچا سره داسی سلوک کاوه ، چی هر چا هغه خپله او د ځان ګڼله ، د هغی د زړه او خولی خبره یوه وه ، لنده داچی هغه ټوله مینه وه

، ښکلا وه ، رڼا او په رښتیا چی د لمر سترګه وه او هسی یوه ځلانده وړانګه وه چی رڼا او تودوښه یی ټولو ته یوشان رسیدله .

خورشـید شاعره وه ، د مینی شاعره او د ژوند شاعره . د هغی هر شعر د وخت د عینی حالاتو د لمنی او سینی نه را وتلی او د هنر په ګاڼه ښکلی شویدی . نو له همدی کبله د هغی د ګټور او برکتی ژوند او د هغی د پرجوشه شاعرۍ د ټولو اړخونو څیړل او په یو مقاله کی را ټولول نه یواځی ګران بلکی ناشوني کار دی . زه به زیار وباسم چی په لنډه تو ګه ځینو غټو ټکو ته په پام اړونی سره خپلی خبری د تاسو سره شریکی کړم .

## د خورشـد په شـعر کی ټولنیز رسالت :

که څه هم زمونږ په کلچری جوړښت کی د ټلنی ټول ویاړونه ، د ټولنی ټوله شتمني او د هر څه په هکله د تصمیم نیولو واک او اختیار د نارینه سره دی او داسی رواج شویدی چی د ښځی ته د د مال متاع په سترګه و کتل شی او نارینه یی واکداری وکړی ، د خور برخلیک

وروز ټاکی ، د لور سرنویشت د پلار په لاس کی دی او د ښځی مطلق اختیار لرونکی د هغی خاوند یا میره دی . ځکه چی دا دنارینه وو ټولنه ده ، د دی ټولنی ټول اساسی ارزښتونه د نارینه وو په قبضه کی دی ، سره له دی چی دا ټولنه یو مسلمانه ټولنه ده ، خو د اسلام نه هم هماغه څه را اخلی چی د دوی دودونو او کودونو سره اړخ لګوی ، لنډه داچی دلته هر څه د نارینه د پاره جوړشویدی ، نو که په داسی یوه ټولنه کی د خورشید عطایی په څیر ، د ډاکتر کبرا مظهری په څیر ، د ډاکتر شریفه شریف په څیر ، د ډاکتر ثریا خادم په څیر ، د پروین پژواک ، مریم محبوب ، حنیفه پریور ، نبیلا فتاح یعقوب، فاطمه اختر زیبا خادم،سپوږمۍ میوندی، مینا کرباسی ، زهره یوسف ، سهیلا اصغری شکریه بارکزی ، فوزیه کوفی ، سجیه او په سلګونی نوری زوړوری شاعرانی ، لیکوالانی ، هنرمندانی او په سیاسی ، اقتصادی او حقوقی مسایلو باخبری میرمنی را پیدا شی او د ټولنی واکدار نارینه ته ور په یاد کړی چی یواځی ته د دی ټولنی جوړونکی نه یی ، باید په خپل حد و اوسی ، نو ورسره سم د راز راز واکدارانو د قهر او غضب د ګذارونو سره مخامخ کیږی او د ژوندانه هره برخه ور ته دوزخ جوړوی ، چی ښه نمونه یی همدا څو موده پخوا د شهیدی فرخندی او څوکاله وړاندی د ځوانمرګی ناهید د غم نه ډکی پیښی دی چی د جادوګرانو او متجاوزینو ، دکوډو او وحشتناکو کړو وړو سره د مخالفت له کبله را منځ ته شوی او تر څو چی دنیا آباده وی هیری به نه شی. اوس نو خورشید او د هغی نوری بیداری ، هوښیاری او زړوری خویندی مجبوری دی چی یو تر بله لاسونه ورکړی او دا دنارینه په لاس جوړشوی دوزخونه دړی وړی کړی، خپل تقدیر پخپله جوړ کړی او ځانته په خپل ژوند کی خپل جنت آباد کاندی .

خوشید عطایی دا د هیلو دنیا داسی جوړوی:

ډیر پیچومي وو په لار کی

ډیر درانده پیټي پراته وو

دغو ټولو ګراوو ته

ما ځانګړی اوږه ورکړه

او د هیلو یوه بله / دنیاګی می کړله جوړه .

د خورشـید شاعری د مینی او امید شاعری ده ، څورشید شعر د نازک خیال او سپیڅلی احساس زیږنده بولی. د هغی روښانه ذهن او معصوم فطرت هره شیبه د همرازی او سپیڅلتیا په تکل کی سرګرم دی . هغه بی له ویری وایی چی

زه شاعره یم ، د حوادثو هر تصویر ته د مینی رنګ ورکوم ، له هغی نه سرود جوړوم او په دی توګه د مینی د اور د لمبو رڼا هری تیاری ته رسوم . هغه وایی :

تصویر د حوادثو چی می سترګو ته دریږی

د مینی زمزمو کی سرودونه جوړوم

په توره تاریکی کی د مشعل غوندی بلیږم

د مینی د بریښنا نه څراغونه جوړوم

خورشید یمه سینه کی می د مینی اور بلیږی

د مینی د سکر وټو نه لعلونه جوړوم

## د خورشید شاعری د نفاق او ناپوهی سره ډغری دی:

خوشد په دی پوهیدلی ده چی د شیطان په لار روان کسان د ناپوهه ولس د عقیدو سره لوبی کوی او خپلو ناروا هدفونو ته د رسیدو د پاره د جهالت تیاری خوروی او عام وګړی د تباهی کندو ته ورغورځوی. نو په داسی حالت کی د مظلومانو د نجات د پاره د خپل پروردګارنه د هغوی مرسته غواړی او داسی وایی :

لویه خدایه ، لویه خدایه داحال شو ـــــ د افغان وطن خراب او تراب راغی

د افغان د تباهی د پاره ربـــــــــه ـــــ دیو د جهلپه غضب او شتاب راغی

وطن وران افغان تباه شو ته یی وینی ــ په شدت سره نفاق او عذاب راغی

لویه خدایه ته نیکمرغه افغانان کړی ــ د افغان په غم می زړه کی خوناب راغی

د خورشید هیلی به هله شی تر سره ــ که دا سوال یی ستا په در مستجاب راغی.

زه نه غواړم چی حبری اوږد ی کړم خو دومره ضرور وایم چی خورشید عطایی د یوه حساس زړه خاونده وه ، لکه له خپل ښکلی مخ نه یی چی نقاب لری کړی و او نورانی وړانګی یی هر چا ته یوشان رسیدلی ، په همدی توګه یی د ژوند له مخ نه هم د رنګونو نقاب لری کړی و او د هغه اصلی څیره یی له هری لوری نه په پرانستو سترګو لیدلی وه.

هغه یو ه سوچه انسانه ، یوه سوچه افغانه او یوه سوچه مسلمانه وه ، د هغی مصوم توب او ساده ګی او ورسره د ژور عقل او لوړ فکر د دی نه یو داسی شخصیت جوړ کړیدی چی که سل کرته هم مره شی او په ظاهره کی به خپلو یارانو نه بیله شی بیاهم نه مری او د یارانو د زړونو نه نشی لری کیدای . دا ځکه چی د هغی خیالونه د یارانو په زړونو کی پراته دی ، او د چا چی خیالات ژوندی وی ، د جسم مړینی ته مړینه نه بلکی جدایی وای .

زه له مونږ څخه دی جدا شوی خور ته وایم چی :

خورشید هر روز ازما جدا میگردد ، وباز با ما وصلت میکند ، تو که خورشید ما هستی چگونه میتوانی که از ما جدا شوی؟ مطمین باش که تو هم با ما و هم آیندگان خواهی بود و تا روز قیامت خواهی بود. نو ځکه وایم چی :

د جنت حوره وه ، جنت ته لاړه      دلته رنځوره وه ، جنت ته لاړه

خورشید رڼا وه ، د تیارو دښمنه      جوړه له نوره وه ، جنت له لاړه

د انسانیت او محبت لباس کی      پټه مغروره وه ، جنت ته لاړه

د جهالت سره جګړو کی ستړي      نوره مجبوره وه ، جنت ته لاړه

د کلیوال په څیر په دی دنیا کی      پردی مزدوره ، جنت ته لاړه.